شتمنی
SHTAMANAI

هرکشور باید کاملا آزاد باشد تانوع از سیستم
اقتصادی،سیاسی و اجتماعی که مناسب میداند برگزیند

چهارشنبه | ۲۳ ذوالقعده ۱۴۴۳ / ۱ سرطان ۱۴۰۱ | ۲۲ جون ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۲۲ | ٤ صفحه


# په مزار شریف کې د یو ستر سوداګریز مرکز د بنسټ ډبره کېښېښودل سوه



خصوصي سکټور په یوه هیواد کې د اقتصادي ودې مهمه برخه جوړوي، پر همدې اساس د ماليې وزارت خصوصي سکټور ته د پرمختګ او اوږه په اوږه کار کولو لپاره لازم فرصتونه رامنځته کوي؛ د همدې فرصتونو په لړ کې په مزار شریف ښار کې د یوه ستر سوداګریز مرکز جوړېدل دي، چې د ماليې وزیر ملا هدایت الله بدري له خوا يې د بنسټ ډبره کېښېښودل سول.

په دغه سوداګریز مرکز کې یو ستر هوټل، د د درملو پلورلو مارکیټ، دوکانونه، د موټرو تم ځای او ورزشي کلپونو شامل دي، چې د (۴۵۰) میلیونه افغانیو په لګښت په ۲۴ زره متره مربع مساحت کې د خصوصي سکټور له خوا پانګونه کیږي.

د ماليې وزارت هڅه کوي چې د خصوصي سکټور د سرمایه ګذارۍ دپاره داسې نور فرصتونه هم برابر کړي.

---

# مالیاتي محاسبینو ته د فعالیت جوازونه ورکړل سول



د ماليې وزارت د عوایدو لوی ریاست لخوا د یو لړ مراسمو په ترڅ کې مالیاتي محاسبینو ته د فعالیت جوازونه ورکړل سول.

مالیاتي محاسب هغه حقیقي شخص دئ، چې د عوایدو لوی ریاست له لوري د محاسبینو د طرزالعمل سره سم په مالیاتي چاروکې د جواز درلودونکی وي او د مالیاتي قوانینو په رڼا کې د مالیه ورکونکي له حقوقو څخه دفاع او استازولي، د مالیه ورکوونکي د ماليې سنجول، د ماليې د صورت حسابونو برابرول، د سندونو د قانوني پړاوونو تعقیبول، مشوره او تخنیکي مرسته کول يې دندې شمېرل کېږي.

مالیاتي محاسبینو ته د فعالیت جوازونو د ورکړې غونډه د ماليې وزارت په خیبر صالون کې جوړه سوې وه، چې پکښې د یاد وزارت اړوند د ګڼو ریاستونو رئیسانو او رسنیو ګډون کړی وو.

ماليې وزارت د مالیاتي محاسبینو د جذب او روزني دغه پروسه د شفافیت قایمولو او د فساد د مخنیوي په موخه د مسلکي او ژمنو اشخاصو د جذب لپاره په لاره اچولې ده، چې د مالیاتي محاسبینو د روزني او جواز ورکولو دغه لړۍ به دوام ومومي او په راتلونکي کې به د هیواد په کچه علمي کدرونو او فارغ سوو محصلینو ته په دې پروسه کې د ګډون ښه فرصتونه برابر سي. د غونډې په ورستیو کې ۲۱ تنو مالیاتي محاسبینو ته د فعالیت جوازونه هم ورکړل سول.

---

سرمقاله

## مالیاتي محاسبینو ته د جوازونو ورکړه به فساد کم او شفافیت زیات کړي

د ماليې وزارت د عوایدو را ټولولو، د روڼتیا رامنځته کولو او د فساد له منځه وړلو کې له ټولو هغو ممکنو لارو چارو ګټه اخلي چې دغه پروسه رڼه سي، د مالیه ورکوونکو د جذب بهیر اسانه سي او د مالیاتي محاسبینو پر مټ يې د ټولو پړاونو لړۍ په مسلکي او تخصصي ډول مخته ولاړه سي. د مالیاتو راټولولو بهیر له کوم ځانګړې طرزالعمل پرته ډېرې وختونه له خنډ سره مخ وي او ترڅنګ يې د مالیه ورکوونکو تشخیص ستونزمن او دا رنګه د مالیاتو تېښتې ته لاره هواروي. همدغو مواردو ته په کتو سره د ماليې وزارت د عوایدو لوی ریاست له لوري په لومړي ځل د اسلامي امارت په حاکمیت کې مالیاتي محاسبینو ته د فعالیت جوازونه ورکړل سول. مالیاتي محاسبین هغه حقیقي وګړي دي، چې د عوایدو لوی ریاست له لوري د محاسبینو د طرزالعمل سره سم په مالیاتي چاروکې د جواز درلودونکي وي او د مالیاتي قوانینو په رڼا کې د مالیه ورکونکو له حقوقو څخه دفاع او استازولي، د مالیه ورکوونکو د ماليې سنجول، د ماليې د صورت حسابونو برابرول، د سندونو د قانوني پړاوونو تعقیبول، مشوره او تخنیکي مرسته کول يې دندې شمېرل کېږي. مالیاتي محاسبین د حکومت او ولس ترمنځ د اړیکو په ټینګولو کې ستر رول لوبوي، دوی دې ته لاره هواروي، چې دواړه لوري د ښې همکارۍ او همغږۍ له لارې په مالیاتي چارو کې روڼتیا او اسانتیا رامنځته کړي، د مالیاتو د تېښتې مخنیوی وکړي او د دوه اړخیزه سلا مشورو له لارې خپلې اړیکې پراخې کړي.

مالیاتي محاسبینو ته د فعالیت جوازونو د ورکړې لړۍ تېره ورځ د ماليې وزارت په خیبر صالون کې پیل سوه، چې د وزارت لوړ پوړو مسؤلینو او مالیاتي محاسبې جواز اخیستونکو ګډون پکښې کړی وو. ماليې وزارت د مالیاتي محاسبینو د جذب او روزني دغه پروسه د شفافیت قایمولو او د فساد د مخنیوي په موخه د مسلکي او ژمنو اشخاصو د جذب لپاره ترسره کړه او په پرلپسې ډول به روانه وي. د مالیاتي محاسبینو د روزني او جواز ورکولو دغه لړۍ به دوام ومومي او په راتلونکي کې به د هیواد په کچه علمي کدرونو او فارغ شویو محصلینو ته په دې پروسه کې د ګډون ښه فرصتونه برابر سي. د ماليې وزارت رهبري او اړوندي اداري، د اسلامي امارت له واکنېدو وروسته په دې هڅه کې دي، چې له تېر نظام څخه ورپاتي نیمګړي سیسټمونه فعاله کړي، د مالیاتي چارو ټولي پروسې رڼې او اسانه کړي، خپل کارکوونکي په مسلکي او تخصصي ډول وروزي او په یوه ډول غوره کاري او مسلکي اداري رامنځته کړي. دې وزارت مالیاتي محاسبینو ته د جوازونو د ورکړې ترڅنګ د خپل پرسونل د مسلکي روزني په موخه روزنیز لنډمهال، منځمهاله او اوږدمهال پروګرامونه هم ترسره کړي دي. زموږ ګډه موخه په ځان بسیا او له اقتصادي اړخه پر پښو ولاړ افغانستان دئ او دې موخې ته د رسېدو لپاره اړینه ده، چې خپله ژمنتیا او وفاداري ثابته کړو.

---



د وزارتونو او دولتي ادارو د عایداتي برخې مسؤلینو ترمنځ ناسته ترسره سوه
۲



برنامه آموزشی محاسبه مالیات بر عایدات و سیستم سگتاس برای کارمندان گمرکات راه اندازی گردید
۲



اریانا افغان هوايي شرکت ایربس طیارې د سي چیک پروسه پای ته ورسېده
۲



افغانستان د منځنۍ او جنوبي آسیا د وصل په نقطه بدلېږي
٤



اهمیت شاهراه سالنگ در رشد اقتصادی کشور و چالشهای موجوده آن
٤

SHTAMANAI

## د وزارتونو او دولتي ادارو د عايداتي برخي مسؤلينو ترمنځ ناسته ترسره سوه



د وزارتونو او دولتي ادارو د عايداتي برخي مسولينو ترمنځ دغه ناسته د عوايدو عمومي رئيس، معراج محمد معراج په مشرۍ، د غيرمالياتي عوايدو رئيس، امان الله امين او د بېلابېلو وزارتونو او دولتي ادارو د عايداتي برخې مسولينو په ګډون د ګمرکونو او عوايدو عمومي رياست د غونډو په تالار کې ترسره سوه.
دغې ناستې کې د اړوندو مسولينو له لوري د ګزارشونو او وړانديزونو له وړاندې کولو وروسته، په وزارتونو او دولتي ادارو کې د غيرمالياتي عوايدو د کسر د بشپړاوي پر څرنګوالي بحث او خبرې اترې وسوې او د شته ستونزو د هواري لپاره مناسبې حللارې وړاندې سوې، همدارنګه ټاکلو موخو ته د رسېدو لپاره اړوندو برخو ته لازم هدايات وسول.
د عوايدو عمومي رئيس، معراج محمد معراج د راټولو شويو غيرمالياتي عوايدو د زياتوالي په موخه د ځينو اړوندو ادارو هڅې وستايلې او د هغو ادارو لپاره چې د غيرمالياتي عوايدو په راټولو کې د ۱۴۰۱ کال غبرګولي ۳يمه نېټې پورې له ټاکلې موخې څخه وروسته پاتې دي، حل لاره وړاندې کړه او يادو برخو کې له مسولينو د لا همکارۍ غوښتونکى سو. د غير مالياتي عوايدو رئيس، امان الله امين ګډونوالو ته د لازمو لارښونو ترڅنګ، ټينګار وکړ، چې موږ بايد له خپلو کورنيو عوايدو ملي بوديجه تمويل کړو.
د يادونې وړ ده، د هرو دوو مياشتو په ورستيو کې، خپلو موخو ته د رسېدو او د ښکيلو اړخونو د کړنو ارزونې لپاره د ماليې وزارت، عوايدو عمومي رياست کې ناستې ترسره کېږي.

## برنامه آموزشی محاسبه مالیات بر عایدات و سیستم سگتاس برای کارمندان گمرکات راه اندازی گردید



ریاست منابع بشری وزارت مالیه برای کارمندان گمرکات برنامه آموزشی بررسی محاسبه مالیات برعایدات و سیستم سکتاس را در تالار احمد شاه ابدالی اکادمی گمرکات طی مراسمی راه اندازی نمود.
در این مراسم، مولوی احمد شاه شاکر، رییس انسجام و انکشاف عواید ولایات ریاست عمومی عواید، احمد ضیاء نیازی، آمر آموزش و ارتقاء ظرفیت منابع بشری و شماری از کارمندان وزارت مالیه اشتراک داشتند.
این مراسم با تلاوت آیات از قرآن عظیم الشأن آغاز گردید، مولوی احمد شاه شاکر، رییس انسجام و انکشاف عواید ولایات ریاست عمومی عواید در سخنان افتتاحیه خویش ضمن عرض سلام و خوش آمدید به اشتراک کنندگان گفت، آنچه را شما اینجا به صورت حرفه ای و مسلکی می آموزید، به شما در ایجاد تسهیلات و شفافیت لازم در امور گمرکی، بلند بردن عواید و تقویت نظام کمک می کند.
وی از کارمندان خواست تا با ایمان داری و صداقت مسئولیت خویش را در راستای خدمت به مردم و وطن ایفا نمایند. وی خاطر نشان ساخت که کار کردن در نظام اسلام به مثابه عبادت بوده، ثواب دنیوی و اخروی دارد. غلفت از وظیفه و مسئولیت هم نا فرمانی از رهبری و علیای نظام و هم خیانت به خون شهدای است که بخاطر حاکمیت نظام اسلامی جان های شان را قربانی کرده اند.
احمد ضیاء نیازی، امر آموزش و ارتقای ظرفیت ریاست منابع بشری وزارت مالیه ضمن ارائه معلومات در مورد برنامه متذکره از اشتراک کنندگان خواست تا برای عملی نمودن آموخته هایشان و معیاری ساختن امور تلاش کنند. قابل یاد آوریست که این برنامه به مدت ۱۰ روز ادامه داشته و در آن موضوعاتی چون حقوق مالیه دهنده، مکلفیت کارمندان اداره مالیات، بررسی مالیات بر عایدات، بررسی مالیاتی، انواع بررسی ها و غیره موضوعات

## اداري فساد کې ٪۹۰ کموالی راغلی دی

ليکنه: لعل ځاځی

په افغانستان کې هر کال تر ۲.۹ مليارده امريکايي ډالرو په ارزښت اداري فساد ترسره کېدلو او په نړۍ کې فاسد ترين هېواد ګڼل شوی وو. د فساد په نشتون کې تېر حکومت کولای شول چې خپله عادي او پراختيايي بودېجه له کورنيو عوايدو پوره کړي؛ خو فساد مدېريت نشو او ٪۵۳ بودېجه مو په بهرنيو مرستو ولاړه وه. په ادارو کې کارونه د رشوت په مقابل کې ترسره کېدل او بوروکراسي (کاغذ پراني) اوج ته رسېدلي وه. هر کار د يو تحفې سره مل وو، چې ظاهرا تخفه يا شيريني نومېدله خو په اصل کې يې رشوت نوم درلود.
د فساد لاندې برخې په تېر کې موجودې وې چې اوسمهال يې اکثره له منځه تللي دي او د پانګوالو او سوداګرو په چارو کې يې ډېره اسانتيا رامنځته کړې ده.
د هېواد د عوايدو په راټولولو کې د څارنې او شفاف سېستم نشتوالی؛
پر لاره په زوره د پيسو اخېستل؛
له کمېشن کارانو سره د ګمرکونو د کارکوونکو ملګرتيا؛
ګمرکي فساد کې د حکومتي چارواکو، واليانو، قومندانانو او وکېلانو لاس لرل؛
د ګمرکونو د کارکوونکو په ګومارنه کې د واليانو، قومندانانو، سېمه ييزو مسولينو او وکېلانو لاس لرل؛
په ګرځنده اداره کې د اړيکې له مخې د کومارل شوو کسانو لخوا فساد ترسره کېدل؛
بعضې وخت هغه کارکوونکې چې د ازاد رقابت له لارې يې ګمرکونو ته لاره موندلې وه او فکر يې کولو چې موږ کاري خونديتوب لرو، نو فساد يې ترسره کولو.
هره شپه سلګونه موټر پرته له ګمرکي تعرفې له ګمرکونو او بندرونو تېرېدل؛
په يو سرحد کې يو ډول ماليه اخېستنه او په بل کې بل ډول اخېستنه د خصوصي سکټور ترمنځ د فساد د رامنځته کېدو سبب ګرځېدلې وو؛
په ګمرکي سياست کې د ستونزو له امله فساد ته لاره هوارو؛
د ماليې وزارت په سېستم کې به کله يو توکی نوو خو په بازار کې به شتون درلود چې دا معنا لري چې مقابل لوری سوداګر نه بلکې يو کمېشنکار دی. مثلا په سېستم کې به رېډبول، نوشابه او انرژي نوه خو بازار به ترې ډک وو ترڅو لږ ګمرکي محصول پرې راشي.
فساد اوج ته رسېدلی وو، سوداګر او پانګوال ډېر ورسره په زحمت وو، ځکه چې بعضو سوداګرو به قانوني ګمرکي تعرفه ورکړه، خو بعضو به په پټه لارۍ تېرولې چې په بازار کې هغه سوداګر چې قانوني پړاو يې طی کولو د ده محصول به بازار له لاسه ورکړ او بلاخره سقوط به شو، نو وروسته دی هم مجبورېدلو چې په عين شکل په غير قانوني ډول توکې بازارونو ته په ارزانه قېمتونو راوړي چې همدې چارې د فساد په کچه کې هره ورځ زياتوالی راوستلو او بلاخره د فساد شتون خلک زيات ناهېلې کړي وو. همداسې په دولتي چارو کې هر قانوني کار د رشوت په مقابل کې وو چې زه يې يو عادي مثال درکوم؛ زما يو ملګري يو ځای د ښاروالۍ قوانينو په رعايتولو سره د سرك په غاړه کې دوه منزله تعمير جوړولو خو ده ته تر اخېره اجازه ورنکړل شوه ځکه چې د هر منزل په مقابل کې يې ترې پنځه زره ډالر غوښتل همغه وو چې پاتې شوو او اوس چې کله امارت حاکم شوو هغه تعمير يې بدون له کومه خنډه جوړ کړ. همداسې سلګونه نور مثالونه شته چې د خلکو د ناهېلي کېدو سبب ګرځېدلي او د دولت هر چارواکی يې د غلا په نوم پېژندلی وو. ډېر کم اشخاص وو چې اداري فساد يې نه کولو او د خلکو خدمت او ملي کتو ته ژمن وو.
له کله نه چې اسلامي امارت واك ته رسېدلی دی د فساد سره جدي مبارزه روانه ده او ان تر دې چې ٪۹۰ اداري فساد له منځته تللی دی او ډېر کم خلك اوس شته چې د امارت د نوم څخه په ګټه اخېستنې فساد ترسره کوي. کله چې اسلامي امارت واك ته ورسېد د سېستونو د بندېدو له امله په بعضې ځايونو کې په فزيکي توګه له سوداګرو ګمرکي تعرفې او مالېې اخېستل کېدلې خو تازه ټولې تعرفې په الکټرونيکي شکل اخېستل کېږي. په ادارو کې تر ډېره برېده ژمن کسان ګومارل شوي دي او د فساد په کچه کې يې ډېر کموالی راوستلی دی کوم چې سوداګرو او پانګوالو ته يې ډېر سهولتونه رامنځته کړي دي او حتی هر سوداګر په خپله خوښه غواړي چې ژر تعرفه تحويل کړي. اوس وخت کې سوداګر ډېر خوشحاله دي چې د دوی ماليه د غلا جېبونو ته نه ځي او دولت يې په سمه توګه په لګښت رسوي.

## د اريانا افغان هوايي شرکت ايربس طيارې د سي چيک پروسه پای ته ورسېده



د اريانا افغان هوايي شرکت د ايربس طيارې (A۳۱۰-۳۰۰) د سي چيك (Check-C۲۰) پروسه د يو لړ مراسمو په ترڅ کې بريالۍ پای ته ورسېده.
په دغه غونډه کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزير مولوي حميدالله اخندزاده، د مالېې وزارت پلاوی، د کابل نړيوال هوايي ډګر او د اريانا افغان هوايي شرکت مسؤلينو ګډون کړی وو.
د اريانا افغان هوايي شرکت تخنيکي مرستيال مير عبدالله طوطاخيل، په هيواد کې دننه د طيارې د (سي چك) د اهميت په تړاو خبري وکړې او وې ويل: دا لومړی ځل دئ، چې داسي يوه مهمه چاره ترسره کيږي؛ په کور دننه د افغان انجنيرانو له لوري د طيارې سی چك د هيواد لپاره يو مهم اقتصادي زيری دئ، چې اوس د اريانا افغان هوايي شرکت يوه لويه ايربس (A۳۱۰-۳۰۰) طياره ګټې اخيستني او پرواز ته چمتو ده.
د ټرانسپورټ وزارت د پراوزونو د خونديتوب رئيس انجنير همايون ستانکزي وويل: د اريانا افغان هوايي شرکت د طيارې (سي چك) او د دې شرکت نور تخنيکي کارونه د نړيوالو معيارونو له مخي ترسره کيږي او اوس په دې برخه کې ټول ضرورتونه دننه په هيواد کي پوره کيږي، چې له مخي ئې له هيواده د سرمايې له وتلو څخه مخنيوی کيږي.
د کابل نړيوال هوايي ډګر عمومي رئيس مولوي عبدالهادی حمدان وويل: پخوا به د طيارو (سي چك) له هيواده بهر په لوړ لګښت او زيات وخت نيولو سره ترسره کېدی، چې له نيکه مرغه اوس دغه پروسه په هيواد کي دننه په کم لګښت او د افغان انجنيرانو په هڅو ترسره کيږي، چې دغه چاره د ټول افغان ولس لپاره يو ستر وياړ دئ.
د اريانا افغان هوايي شرکت عمومي رئيس الحاج رحمت الله اخند خوښي څرګنده، چې د (سي چك) پروسه په برياليتوب سره ترسره سوه. نوموړي وويل: زموږ انجنيرانو دا ثابته کړه، چې په کمو امکاناتو؛ خو په اخلاص سره کولای سو لوي کارونه ترسره کړو. د يادوني وړ ده، هره طياره د ټاکل سوو الوتنو او مشخصو ساعتونو له تيرولو وروسته اړتيا پيدا کوي، تر څو ټول سيستمونه، تخنيکي برخي او په خاصه توګه انجن برخه يې چك سي.
د طيارو سي چك له هر ۳۵۰۰ ساعتونو وروسته په هرو ۱۵ مياشتو کي يو ځل ترسره کيږي.

شتمنی
SHTAMANAI

# دست آورد های شرکت حفظ و مراقبت مکروریانها

شرکت تدویر، حفظ و مراقبت مکروریانها در سال۱۳۴۶ برای ارایه خدمات چون مرکز گرمی، سرسبزی،آبرسانی، تخلیه کانالیزاسیون، وسایر خدمات انجینیری، تخنیکی و تیصفیه خانه ها بنیاد گذاری شد. در حال حاضر شرکت متذکره به ۱۱۳۸۸ آپارتمان ارایه خدمت می نماید. اخیرآ با گماشته شدن محترم پوهنمل غلام عمر عبدالله به حیث رئیس این شرکت دست آورد های زیادی در بخش های چون؛

۱: ارزیابی تشکیل قبلی ترتیب تشکیل جدید.

- تفکیك پرسونل نظربه درجه تحصیل دوازده پاس، چهارده پاس، لیسانس و ماستر.
- تفکیك پرسونل از نگاه روابط فامیلی که قبلا هم گزارش به مقام محترم وزارت مالیه تقدیم گردیده است.
- تعینات تشکیل نظربه اصول مثمریت، مؤثریت و سوابق کاری.
- تفکیك پرسونل نظربه ظرفیت کاری.
- تفکیك پرسونل از نظرسوابق کاری.

۲: فعال سازی تخلیه خانه قلعه زمان خان و جلوگیری از تخلیه های خود سر فاضلاب.

در زمینه فعالیت های ذیل صورت گرفته است.

- ۷۲ متر تونل که از سال های قبل به اث رزوگوئی و استفاده جوئی زورمندان بند گردیده به اثر سعی و تلاش رئیس صاحب عمومی شرکت دولتی تدویر حفظ و مراقبت مکروریان باز، ترمیم و اماده فعالیت گردید.
- جلوگیری از فساد اداری تقریباً در حدود ٪۹۰ که قبلا به اثر فساد هیچ نوع عواید به شرکت جمع اوری نمی شد فعلا الحمد الله عواید به چند برابر بلند رفته است.
- تمام قرارداد قلعه وزیر ماهانه به چهارلك افغانی به قرارداد داده شده بود که به اثر سعی و تلاش رئیس صاحب اداره محترم پوهنمل غلام عمر عبدالله قرارداد که به ضرر شرکت بود فسخ و اشخاص واجد شرایط و عاری از فساد را توظیف نموده که دریك شبانه عواید ان به یك لك الی دو لك عواید میرسید.
- عواید قلعه وزیر به اثر تخلیه گاهای غیرقانونی کم بود که نظر به پلان ترتیب شده از طرف مقام محترم ریاست عمومی شرکت دولتی تدویر حفظ و مراقبت مکروریانها تمام تخلیه گاه ها را متوقف نمود وحتی چندین تن به این اتهام به ارگان های امنیتی، استخباراتی و کشفی معرفی گردید.
- نظربه شواهد بعضی افراد و اشخاص زورگوه و استفاده جوه که در کانالیسزاسیون این شرکت دولتی تدویر حفظ و مراقبت مکروریانها به شکل غیر قانونی تخلیه مینمود از طرف مسئولین و تیم سیار این شرکت دستگیر و به پنجه قانون سپرده شد.
- بعضی افراد زورگو که از لباس مجاهدین و از نام مجاهدین استفاده مینمود در مورد تخلیه گاهای غیرقانونی سوی استفاده مینمود شناسای و به مراجع مربوطه شان اطلاع داده شد.

۳: پیگیری وصل سیستم عزیزی پلازا ثبیت دیون آن و فرستادن قضیه به ارگان های ذیربط قضایی.

- بررسی سیستم عزیزی پلازا که قبلا به اثر بعضی اجراآت غیرقانونی با عزیزی پلازا همکاری می شد شناسی و اجراات قانونی صورت گرفت.
- بعد از بررسی دقیق بخاطر حصول حقوق این اداره از عزیزی پلازا دوسیه و اوراق مربوطه به ارگانهای محترم عدلی قضای ارجاع گردید تا اجراات به موقع صورت گیرد.
- اجراآت در مورد حصول این اداره از عزیز پلازا.

۴: ایجاد روابط با سفارت روسیه جهت ترمیم سیستم مرکز گرمی مکروریانها.

(با احداث و بهره برداری پروژه بلاك های مکروریان اول در سال ۱۳٤۵ که به نام آمریت نادرشاه مینه مسمی بود دستگاه مرکز گرمی مکروریان اول نیز آغاز به فعالیت نمود که سالیان متمادی از آن به عنوان دستگاه توزیع حرارت برای اپارتمانهای مکروریان اول استفاده میگردید تا اینکه جنگ های داخلی و گذشت زمان باعث تخریب و غیر فعال شدن این دستگاه گردید. هکذآ: دستگاه مرکز گرمی مکروریان چهارم که چندین سال بعد از فعالیت دستگاه ۱-۲ به فعالیت آغاز نمود و تا اکنون هم از آن استفاده به عمل می آید از اثر استفاده زیاد استهلاك گردیده و یك دستگاه انالوگ و پر مصرف میباشد. در این رابطه از اینکه ساختمان و منتاژ دستگاه ها به کمك مالی و تخنیکی کشور روسیه اعمار گردیده بود از طریق وزارت محترم خارجه امارت اسلامی افغانستان با سفارت کشور روسیه در تماس گردیدیم تا به کمك مالی و تخنیکی ایشان دستگاه های متذکره بازسازی و احیای مجدد گردیده و در صورت امکان سیستم های آنها مدرنیزه سازی گردد و در زمینه تفاهمات صورت گرفته است)

۵: توزیع کارت هویت برای تمامی کارمندان.

(کارمندان شرکت تدویر و مراقبت مکروریانها قبل از امارت اسلامی افغانستان کدام کارت هویت یکسان نداشتند و در تشخیص هویت شان از استعلامیه ها و کارت های غیر معیاری استفاده می نمودند، با رویکار آمدن امارت اسلامی افغانستان برای تمام کارمندان و کارگران کارت های هویت معیاری از آدرس امارت اسلامی افغانستان برایشان توزیع گردید.)

٦: فرستادن اسکیل معاشات به ریاست الوزرا امارت اسلامی افغانستان.

(قبلآ معاشات کارمندان و کارگران شرکت ناچیز بود و اسکیل جدید معاشات کارکنان از طریق ریاست الوزرا امارت اسلامی افغانستان مواصلت نموده است و فعلآ مرعی الاجرا میباشد)

۷: تثبیت زمین های سفید ملکیت شرکت و جلو گیری از غصب آن.

(جهت جلوگیری از غصب زمین های شرکت و بلند بردن سطح عواید شرکت یکتعداد زمین های سفید و مازاد شرکت از طریق بخش انجنیری شرکت سروی گردیده و اسکیج های آنها ترتیب و از طریق آمریت تهیه و تدارکات شرکت به اعلان داوطلبی سپرده شده و پروسه تدارکاتی آنها در جریان قرارداد تا به کرایه و اجاره داده شود.)

۸: ترتیب شرطنامه تجارتی.

(برای تمام جایداد های شرکت و پارکینگ ها و غیره ساحات مربوط شرکت شرطنامه های معیاری ترتیب گردیده و عندالضرورت از آنها استفاده به عمل میآید.)

۹: جلب توجه سرمایه گذار های خصوصی.

(مشارکت سکتور خصوصی در امورات شرکت امر ضروری و سازنده است به همین دلیل پرزنتیشن را ترتیب نمودیم و به ریاست محترم عمومی شرکت های دولتی وزارت جلیله مالیه ارسال داشته ایم تا در صورت که سکتور خصوصی بخواهد در بخش های مختلف شرکت مشارکت و همکاری نماید دروازه شرکت بروی شان باز است).

۱۰: ایجاد روابط با دونر های داخلی و خارجی منجمله یونیسف.

(روابط شرکت با دونر های داخلی و خارجی ادامه دارد و با همین پشت کار توانستیم تا کمك مالی و تخنیکی اداره محترم یونیسف را جلب نموده وبه تعداد هفت حلقه چاه آب آشامیدنی را در ساحات مختلف مکروریانها و پروژه ای مربوطه حفر نمائیم).

۱۱: پرداختن به معطله شاهین مارکیت و فرستادن قضیه آن به ارگان های ذیربط قضایی.

# د مالیې وزارت تازه گمارني




مالیې وزارت کې د چارو د لا ښه پرمختګ او وړ کسانو ته د چارو د سپارلو په موخه د دې وزارت یو شمېر ریاستونو ته نوي کسان د سرپرست رئیسانو په توګه وروپېژندل سول. په دې گمارنو کې مفتي عبدالمتین سعید د ګمرکونو او عوایدو د معین ملا محمد ناصر اخند له لوري په فوق بست کې د ګمرکونو لوی ریاست د سرپرست په توګه، مولوي ثناءالله نوید د ګمرکونو لوی ریاست د سرپرست د مفتي عبدالمتین سعید له لوري د کابل ګمرك د سرپرست په توګه، محمد نادر همایون د کورنۍ پلټني لوی ریاست د عوایدو او ګمرکونو د پلټني د رئیس په توګه، عبدالله منیب چي په اقتصاد کي د ماسترۍ تر کچي لوړي زده کړي لري د تصدیو ریاست د سرپرسته په توګه، ممتاز الدین ممتاز چي په حقوقو او نړیوالو اړیکو کي د ماسترۍ تر کچي لوړي زده کړي لري د حقوقي خدمتونو ریاست د سرپرست په توګه او اینجینر عبدالله د کوچنیو مالیه ورکوونکو د رئیس په توګه د یو لړ رسمي مراسمو په ترڅ کي د اړوندو ریاستونو کارکوونکو ته ور وپېژندل سول. د سرپرست رئیسانو د ګمارني پرمهال، چي په بېلابېلو وختونو کي معرفي سول، د ګمرکونو او عوایدو معین د ګمرکونو لوی ریاست سرپرست ته د نوي مسؤلیت مبارکي ورکړه او په ورسپارل سوو چارو کي ئې ورته د بریالیتوب غوښتنه وکړه. نوموړي ټولو همکارانو ته سپارښتنه وکړه چي له نوو ګمارل سوو رئیسانو سره هر اړخیزه همکاري وکړي. د یادوني وړ ده، چي نوو ګمارل سوو رئیسانو ژمنه وکړه چي د اسلامي امارت په چوکاټ کي به ټولو قوانینو او اصولو ته درناوی کوي او د هیواد د ابادۍ او پرمختګ لپاره به له هیڅ راز هڅو مخ نه اړوي.




# اعلان داو طلبی

## اعلان ۲ جایداد دولتی واقع ناحیه اول و چهار ولایت کابل

قرار است ریاست عمومی املاك دولتی یکتعداد جایدادهای دولتی ذیل در مرکز را طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده شود که مشخصات آن قرار ذیل است.

۱- یکباب مارکیت تجارتی بمساحت (۱۱۱۲,۳٤) مترمربع واقع مقابل تعمیر۱٤ منزله سینمای پامیر ناحیه اول شهر کابل

۲- یکباب مغازه نمبر۹ یك منزله دارای ۲ اطاق معه تشناب ۲ سالون کوچك بمساحت مجموعی۳۲۳ مترمربع واقع کارته پروان ناحیه٤ ولایت کابل.

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراك در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، میتوانند بعد از تاریخ ۲۳جوزا الی مدت (۱٤) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

## اعلان ۳ جایداد دولتی واقع ساحات مختلف ولایت کابل

قرار است ریاست عمومی املاك دولتی یکتعداد جایدادهای دولتی ذیل در مرکز را طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده شود که مشخصات آن قرار ذیل است.

۱- موازی ۲۰۰۰ مترمربع زمین سفید واقع مقابل فابریکه نساجی بگرامی ناحیه۱٦ ولایت کابل

۲- موازی ٦۲۱۵,٤۰ مترمربع زمین چهار دیواری شده واقع ده کیپك سرای شمالی ناحیه ۱۷ ولایت کابل

۳- موازی ۹۰۰ مترمربع زمین چهار دیواری شده واقع چمن حضوری ناحیه ۸ ولایت کابل

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراك در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، میتوانند بعد از تاریخ ۲۳جوزا الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

SHTAMANAI

# افغانستان د منځنۍ او جنوبي آسیا د وصل په نقطه بدلېږي




سره له دې، چې افغانستان د نړۍ په وچه کې پروت هېواد دی؛ خو بیا یې هم اقتصادي موقعیت (جیو ایکانمیک) داسې دئ، چې د یو ځواکمن او خپلواک حکومت په درلودلو سره د منځنۍ او جنوبي آسیا تر منځه د وصل نقطه ګرځي. د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره د افغانستان له خاوري بهرنی ترانزیټ کې د تېر په پرتله د پام وړ زیاتوالی راغلی، چې له دې سره به افغانستان ورو - ورو د سیمې د اتصال په مرکز بدل سي. د تېر نظام په وروستیو (۹) میاشتو کې (۱۳۲۸۲) ترانزیټي محمولې د افغانستان له خاوري څخه تېري سوي وې، خو د نوي نظام په وروستیو (۹) میاشتو یعنې د ۱۴۰۰ کال د سنبلې میاشتې څخه د (۱۴۰۱ل) کال د ثور میاشتې پوري (۲۶۷۲۳) ټرانزیټي محمولې تیري سوي دي، چې د تیر په پرتله دوه برابره زیاتولی ښیي او د یادو محمولو د ټرانزیټ فیس څخه ۳۶۱ میلیونه افغانۍ عواید بیت المال ته جمع سوي، همدارنګه په زرهاوو خلکو ته د کار زمینه هم برابره سوې ده. (ازبکستان، ایران، پاکستان، تاجکستان او ترکمنستان) هغه هیوادونه دي چې د افغانستان له خاوري ټرانزیت ورته سوی دئ. دا د دې ښکارندوی دئ، چې د مالیې وزارت مسولینو په کاري پړاوونو کې اسانتیاوو، د فساد سره د مبارزې او د هیواد اقتصادي ځان بسیایني ته ځانګړې پاملرنه کوي.

**د امتیاز خاوند:** د مالیې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:**
ندا محمد صدیقي
عبدالرحمن سجاد
اجمل زاهد
**د خبر مدیر:** داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش
**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد یوسفزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري

**د مالیې وزارت د لاسته راوړنو، خبرونو، کنفرانسونو، خبرتیاوو، غونډو، داوطلبۍ اعلانونو، د املاکو د کرارداونو او نورو مالیاتي مسایلو څخه د خبرېدا لپاره لاندې آدرسونه کتلای سئ:**

**ویبپاڼه:** mof.gov.af
**ټویتر :** @afghanistanmof
**یوټیوب:** afghanistan mof
**فیسبوک :** د مالیې وزارت، وزارت مالیه

# اهمیت شاهراه سالنگ در رشد اقتصادی کشور و چالشهای موجوده آن



امین الله غفوری
کارشناس ریاست اداره کمک ها

افغانستان تا حدودی زیادی از موقعیت جغرافیایی آن منشا می‌گیرد. در واقع افغانستان نقطه تقاطع آسیای میانه، غرب و جنوب آسیا میباشد. موقعیت جغرافیای افغانستان به آن حیثیت پل ارتباطی میان کشورهای آسیاسی مرکزی و جنوب آسیا را بخشیده است. یکی از مزیت¬های مهم افغانستان استفاده از آن به عنوان کانون ترانزیت و ترانسپورت میان آسیای میانه و جنوب آسیا است. یکی از عوامل دخیل در دسترسی به انرژی مساله ژئوپولتیک هر کشور است. افغانستان به لحاظ موقعیت ژئوپولتیکی که دارد می تواند نقش سازنده‌ای در انتقال انرژی بین کشورهای منطقه بازی کند. افغانستان به خاطر همجواری با کشورهای آسیای میانه به عنوان یکی از منابع مهم انرژی در منطقه و جهان می¬تواند در انکشاف اقتصاد منطقه نقش اساسی داشته باشد. داخل کشور به هر اندازه یی که سرک ها و شاهراه ها با کیفیت عالی و استندرد در وضعیت خوب قرار داشته باشند، توام با آن با استفاده از وسایل و وسایط ترانسپورتی مجهز، مارکیت خریداران و فروشندگان نزدیکتر شده و تفاوت قیمت که از رهگذر مصارف بلند ترانسپورت به وجود می آید، از بین خواهد رفت. البته در موجودیت همچو شرایط زارعین و صنعتکاران به سهولت میتوانند محصولات خود را به مارکیت های مناسب با ترانسپورت خوب در وقت کم و با مصارف کمتر عرضه نمایند. پس واضح میگردد که در صورت عدم موجودیت راه های درست و اساسی فعالیت خدمات سیستم ترانسپورت به وجه احسن امکان پذیر نبوده و منجر به عدم پیشرفت سکتورهای زراعت، صنعت، تجارت و سایر سکتورهای اقتصاد ملی میگردد. پدیده های طبیعی و تولیدات زراعتی افغانستان عمدتاً شامل معدنیات گوناگون، سنگ های قیمتی و عادی، غله جات و میوه جات و.. میباشند. نظر به خصوصیات طبیعی و شرایط اقلیمی حدود اربعه، این سرزمین به مناطق گرم سیر و سرد سیر تقسیم شده است. لهذا تولیدات هر منطقه با هم متفاوت بوده و دارای عین تولیدات زراعتی نیستند و این موضوع را میتوان یک دلیل خوب برای تجارت داخلی عنوان کرد. بنابراین زمانی که از تجارت و تبادله سخن زده میشود، موضوع اساسی و با هم گره خورده همانا شاهراه های است که در صدر مسائل و معاملات تجارتی قرار میگیرد و مسلم است که بدون موجودیت سیستم انتقالات و وسایل ترانسپورتی نمیتوان تجارت را انجام داد. شاهراه سالنگ به عنوان شاهراه اتصال شمال افغانستان به پایتخت و سایر ولایات جنوبی، شرقی و غربی وحتا این تنها سرکی است که جنوب آسیا (پاکستان و هند) و ایران را به آسیا مرکزی (تاجیکستان، ازبکستان و ترکمنستان) وصل می‌کند. شاهراه سالنگ با داشتن اولین و بزرگترین تونل در افغانستان که به طول ۲٫۷ کیلومتر شمال کوه هندوکش را با جنوب آن وصل می‌کند. این تونل در ارتفاع ۳۹۵۰ متر از سطح دریا قرار گرفته‌است. کار ساخت این تونل در سال ۱۳۳۷ آغاز و پس از ٦ سال در سال ۱۳۴۳ ختم گردید. با احداث این تونل راه اتصال شمال افغانستان به جنوب آن تا ۱۱۰ کیلومتر کوتاه‌تر شد. تونل سالنگ راه مواصلاتی شش ولایت شمالی و شاهراه ولایات شمال شرقی می‌باشد. سالنگ ها شاهراه که به برفی بیش از حد سردی وتوفان هایش معروف است مسیری پر پیچ وخمی درفصل زمستان سرما که هر دلی را یاری سفر از آن نیست. شاهراه سالنگ، متصل کننده شمال کشور به پایتخت، شاید بیشترین ترافیک را در میان سایر شاهراه‌های کشور داشته باشد. ترافیک که شب و روز نمی‌شناسد، چالشهای دیگری که شاهراه سالنگ دارا میباشد نه تنها درفصل زمستان برای مسافران و عابران مشکل آفرین است، بلکه در موسوم گرما نیز هر از گاهی مسدود شده و باعث بروز مشکلات ترافیکی و ضررهای هنگفتی در راستای حمل و نقل و تجارت می گردد. تونل سالنگ تهویه ندارد، سیستم روشنایی ندارد و سیستم نیز به کلی ویران شده است. در ضمن در مسیر تونل به جای سمنت و ریگ، گل



انداخته شده و این گل توسط موتر های سنگین تخریب شده موجب بندش در ترافیک می شود، اگر به مشکلات شاهراه سالنگ توجه نشود ممکن است زمانی فاجعه ای رخ دهد. در هر دو مسیر به تعداد صد ها موتر مسافر بری و باربری درحدود ساعت ها داخل تونل گیر می مانند و این می تواند برای مسافران خطرناک باشد. چشم دید خودم از کابل به تخار . طول این مسیر ۴۰۰ کیلومتر است و در صورتی که راه‌بندان شدید نباشد، خودروهای مسافربری، آن را در حدود ۷ یا ۸ ساعت طی می‌کنند. بزرگراه در قسمت‌های مختلف تخریب شده است و بیشتر بخش‌ها فقط سنگریزه و خاکی است. داخل تونل سالنگ، بیشتر از بقیه قسمت‌های بزرگراه تخریب شده است. خودروهای باربری به‌صورت بی‌رویه تردد می‌کنند و کاروان‌های حامل زغال‌سنگ، گاهی برای ساعت‌ها مسیر را به روی خودروهای مسافربری می‌بندند.» وهمچنان دولت از خودروهای مسافربری و کامیون‌های باربری مالیات سنگین می‌گیرند، اما هیچ خدماتی را در شاهراه سالنگ، برای سهولت مسافران و راننده‌ها ارائه نمی‌کنند. قبلا به امکانات تهویه هوا و چراغ مجهز بود، اما اکنون بیشتر بخش‌های این تونل، تاریک و گاهی بدون امکانات تهویه هوا است. کف این تونل نیز به صورت کامل تخریب شده است و کامیون‌ها نیز گاهی باعث مسدود شدن تونل می‌شوند. نرده‌های کناره تونل کاملاً از بین رفته است و هیچ‌گونه امکانات حفاظتی برای مسافران و راننده‌ها وجود ندارد. رانندگان، هنگام عبور از این تونل که در دل یکی از بلندترین قله‌های هندوکش واقع شده است و حدود ۴ هزار متر از سطح دریا ارتفاع دارد، تنها با نور چراغ خودروهایشان می‌توانند عبور کنند. اگر خودرویی در مسیر این تونل از کار بیفتد، به‌دلیل تاریکی و ازدحام، به ندرت راهی برای نجات افراد پیدا می‌شود. در ۲۰ سال گذشته، با وجود اینکه دولت‌های پیشین افغانستان به بهانه بازسازی و ترمیم جاده‌ها و بزرگراه‌ها میلیون‌ها دلار صرف کردند، اما اوضاع شاهراه سالنگ، به‌ویژه در مناطق سالنگ، بهبود نیافته است. سال ۲۰۲۰ وزارت مالیه با انتشار اعلامیه ای گفته بود که این پول در راستای سروی و دیزاین تونل جدید در سالنگ به مصرف می رسد. هزینه مجموعی ساخت تونل جدید بیش از ۱۲۹ میلیون دالر هزینه خواهد داشت که پرداخت اضافه از ۹۲ میلیون دالر آنرا کشور چاپان به عهده گرفته است. چاپان گفته بود این مقدار پول را از آدرس صندوق وجهی زیربنایی افغانستان پرداخت می کند. اکنون شاهراه سالنگ تنها مسیر برای انتقال کالاها و مسافران در مسیر کوه‌های هندوکش میباشد. با توجه به نبود بدیل مناسب برای این راه، بیشتر کالاها و مسافران از طریق تونل سالنگ از شمال به کابل می‌رسد. با استفادهٔ بیش از ظرفیت این جاده، وضع فعلی آن رو به بدتر شدن است و مسافران و رانندهگان در این مسیر دشواری‌هایی بسیار را تحمل می‌کنند. بناً دولت امارت اسلامی در قسمت ترمیم وبازسازی این شاهراه توجه جدی نموده تا مشکلات اقتصادی و اجتماعی مردم این مسیر برطرف گردیده و رشد اقتصادی کشور نیز در مسیر بهتر قرار گیرد.

## د کابل نړیوال هوایي ډګر د ګمرک خبرتیا!

ټولو محترمو دولتي ادارو، کورنیو مؤسسو، خصوصي شرکتونو او انفرادي وګړو ته، چې خپل توکي یې د تضمیني سندونو په نوم له ګمرک څخه ایستلي د ۱۴۰۱/۳/۲۳ نېټې پورې یې د ګمرکي پړاوونو ترسره کولو لپاره بېرته را ستنېدنه نه ده کړې، که چېرته د دې خبرتیا د خپرولو له نېټې یا (۳۰) ورځو پورې د خپلو پاڼو د تصفیې لپاره حاضر نه سي یوزرونه به یې وتړل سي او ګمرکي فعالیتونه یې ځنډول کېږي.
همدا رنګه ټولو دولتي ادارو، کورنیو مؤسسو، خصوصي شرکتونو او انفرادي وګړو ته، چې له تېرو کلونو او د (۱۳۹۹) کال تر وروستیو پورې د کابل نړیوال هوایي ډګر په ګمرک کې د خپلو موجودو توکو د ګمرکي پړاوونو ترسره کولو ته نه وي راغلي، خبر ورکول کېږي، چې ژر تر ژره د کابل نړیوال هوایي ډګر له ګمرک څخه د خپلو توکو د تسلیمۍ لپاره حاضر او ګمرکي پروسه ترسره کړي، له دې پرته تر (۳۰) ورځو پورې یې د ګمرک د قوانینو او مقررو مطابق ټول توکي لیلام ته وړاندې کېږي، بیا د شکایت حق نه لري.